


وَخَيْرَ مَا بَعْدَهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِي هَذَا الْيَوْمِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ، وَسُوءِ الْكِبَرِ، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ"

(په سهاركي شوموږ "اوشوه بادشاهي ټوله الله لره" اوثنااوصفت هم الله لره شوه "نشته لائق هيځوك دعبادت برحق غير دالله نه" چي تنها دي او هيڅ شريك نلـــري "او بادشـــاهي ده خاص دده او ثنا او صفت هم ده لره ده" او هغه په ټولو شايانو قادر دی "ای ځما ربه زه تانه سوال كوم د هر هغه ښه چي پېدي ورځ كي دخير وي او هر هغه ښه چـــي ددي ورځ نـــه وروسته دي د خير" او پناه غواړم د هر هغه ښه نه چي پېدي ورځ كي دشر وي "او هر هغه ښه چي ددي ورځې نه وروسته وي د شر" يا ځما ربه زه تانه پناه غواړم دلټی نه "او د كـــبر {لويي} ښخه" يا ربه زه پناه غواړم د جهنم او د قبر د غذابه).

***چي كله ماښام شي داسي به وائي:***

"أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، ..."

(ماښام كي شو موږ" او د الله كائنات ماښام كي شول" اوټوله ثنا اوصفت الله لره ده" ... الخ).

***دمازديگردوبيلوبله دعا:***

"اَللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ"

(ياالله ستا په بركت (امر) په موږماښام شو "اوستا په بركت په موږ سهار شو" اوســـتا پـــه حكم موږمرواوژوندي كيږو او تالره ځموږ وا پسي ده).

***دري ځلي ماښام:*** (او كله چي ښوك كور ته كوز شي هيڅ شی به ورته ضرر و نه رسی تر وتلو پوري)

"أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ"

(زه پناه غواړم دالله تعالی په پوره كلموباندي د هغه مخلوقاتودشرنه چي ده پيدا كړي دي).



## د فرضي لمانځونو ښخه وروسته دعاګاني

"أَسْتَغْفِرُ اللهَ" {دري ځلي ويل كيږي} "زه دالله جل جلاله نه بخښنه غواړم"

"اَللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ، وَمِنْكَ السَّلاَمُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلاَلِ وَالإِكْرَامِ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اَللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ"

(اي الله ته د سلامتی والا يې "اوسلامتياستاله خوا ده" ته نهايت زيات مبارك يې "يې دلـــويي اودعزت خاوند" نشته لائق هيڅوك د عبادت بغير د تا نه "ځان ته دی هيڅ ملگری نلـــري" بادشاهي ټوله دده ده "اوثنااوصفت ټوله ده لره ده" او هغه په ټولو شايانو قـــادر دي "يـــاالله نشته نيونكي ستا د وركړي لره" اونشته وركونكي ستا نيوكي لره "او دسی د شان والا" دده شان ستانه كتهـه نشي اخستی).

"لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَلاَ نَعْبُدُ إِلاَّ إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ"

(نشته لائق هيڅوك د عبادت بغير دالله نه "چي يو دی او هيڅ شريك نلري" بادشاهي ټولـــه دده ده "اوثنااوصفت ټوله دده ده" اودي په هرڅه توانادي" نه د ښيدو ښه طاقت لرو او نه د كولو ښه قوت لرو "بغير د ستانه" نشته لائق هيڅوك د عبادت بغير دتا نه "او موږ بغـــير دده نه بل چاته عبادت نه كوو" ټول نعمتونه ده لره دي او ټول فضيلت ده لره دی "اوښاكه ثناهم ده لره ده" نشته لائق دعبادت هيڅوك مگرالله جل جلاله دی" موږ مخلصان يودده د دين او كه بده يې هم وگڼي كافران).



"سُبْحَانَ اللهِ" (٣٣ ځلي) "پاكي ده الله لره"

"اَلْحَمْدُ لِلَّهِ" (٣٣ځلي) "تول ثنااوصفت الله لره دي"

"اَللهُ أَكْبَرُ" (٣٣ځلي) "الله دهر ښه نه ډير لوي دي"

***په دي دعابه سل پوره شي:***

"لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ"

(نشته لائق هيڅوك د عبادت بغيردالله نه "چي يودی او هيڅ ساری نلري" بادشاهي ټوله دده ده "اوثنااوصفت ټوله ده لره ده" اودي په هرڅه توانادي).

*(دادعاگاني چي چاوويلي روسته دهر مانځه نه ټول گناهونه به يې معاف شي اگركه دسيلاب دزگونو په شان وي).*

***اية كرسي لوستل:***

﴿اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ...﴾ سورة البقرة ٢٥٥

*"چا چي اية كرسي دهر لمانځه روسته وه لوستله نودي جنتي دي كه مړشو پدي وخت كي".*

***سورة اخلاص اومعوذتين دري ځلی دسهار اوماښام لمانځه پسي ويل اونوروලمونځونو پســـي يوځلي ويل:***

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ...﴾ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ...﴾ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ...﴾

***دادعادسهار اوماښام لمانځه نه روسته لس ځلي ويل سنت دي:***

"لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ"

(نشته لائق د عبادت هيڅوك بغير دالله نه "چي يودی او شريك نلري" بادشاهي ټوله دده ده "اوثنااوصفت ټوله دده ده" ژوندي كوي او مړه كوي "اودي په هرڅه توانادي).

# دسهاراوماښام دعاګاني

***سهار،ماښام،او مخکي له خوبه:*** *(دادعابه وي ساتونکي دده له شيطانه څخه)*

﴿اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلاَ يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ﴾ سورة البقرة ٢٥٥

{نشته هيڅوك لائق دعبادت مګرهم دى‌دى چه تل ژوندى په يوحال باقي قـايم كامـل تدبيروالادى "نه راځي په ده پركالى او نه خوب" ده لـره دى هرهغـه څـه چـي پـه اسمانونوكښي دي او هر هغه څه چي په ځمكو كښي دي "څوك به وي هغه چي سپاربښـت (سفارش) وكړي په نزد دده" هيڅوك يي نشي كولي مګر خو كولى يي شي په حكـم دده سره "عالم دى په هغه څه چي مخكي ددوى دي او هغه څه چي وروسته ددوى دي" او نــه لري طاقت دوى دهيڅ شي دعلمونو دده مګر چي الله وغواړي "ارته ده كرسي دده پـر ټولو اسمانونواو ځمكي باندي" اونه ستومانه كيږي په ساتني داسمانونواوځمكي باندي "اوخداى جل جلاله خورا پورته اوخورالوى‌دى}.

***دسورة إخلاص او معوذتينو ويل سهار اوماښام دري ځلي:***

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ(١) اللَّهُ الصَّمَدُ(٢) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ(٣) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ(٤)﴾

شروع كوم په نوم دالله چي ډيرمهربان اونهايت رحم كونكى دى

{ووايه چي الله يودى "بي پروا دى" نه يي دى ځيږولى هيڅوك "اونه دى ځيږولى شوى دى



(له هيچانه) اونشته دهغه لره برابر سيال هيڅوك}.

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ(١) مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ(٢) وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ(٣) وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ(٤) وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ(٥)﴾

شروع كوم په نوم دالله چي ډير مهربان اونهايت رحم كونكى دى

{ووايه پناه غواړم په رب دصبا څيروونكى دتيارى باندي "له شره دهغه شي چي پيداكړى يي دى اوله شره دتياري شپي كله چي تكه توره شي" اوله شره دهغوښځوساحرانوپوكي كونكيو چي پوكول كړي په غوټوكي "او له شره دحسدكونكى كله چي ښكاره كړي حسد خپل}

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ(١) مَلِكِ النَّاسِ(٢) إِلَهِ النَّاسِ(٣) مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ(٤) الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ(٥) مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ(٦)﴾

شروع كوم په نوم دالله چي ډير مهربان اونهايت رحم كونكى دى

{ووايه پناه غواړم.په رب دټولوخلقو "په بادشاه دټولوخلقو" په معبود دټولوخلقو "له شره د وسوسي اچونكي تيښتيدونكى (شيطان له ذكره دالله) هغه شيطان چي وسوسي اچوي په سينو دخلقوكي" اودغه وسوسه اچونكي له پيريانواوانسانانوڅخه دي}.

***يوځلي سهاراوماښام:*** *(چاچي دادعا په يقين سره وويله په وخت دماښام او همدي شپي ته مړ شونو الله جل جلاله به يي جنت ته داخل كړي او همدارنګي په وخت دسهار)*

"اَللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْـدِكَ مَـا اسْتَطَعْتُ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ



لِي فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ"

(يا الله ته ځماپالونكي يي "نشته هيڅوك لائق دعبادت مګر هم ته يي" تازه پيـداكړي يم "اوزه دي بنده يم" او ستاپه عهد اولوزباندي ولاړ يم تر څو چي ځما طاقت وي دكولو "پناه غـواړم په تا دهغه شر نه چي ما كړى دى" زه اعتراف كوم ستا په نعمتونوپرماباندي "اوزه اعتـراف كوم په خپلو ګناهونو نو ماوبښه ځكه چي بل ښښونكي نشته بغير ستانه).

***دسهاراوماښام بله دعا (يوځلي وييل كيږي):***

"اَللَّهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَـهُ، أَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي، وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ، وَأَنْ أَقْتَرِفَ عَلَى نَفْسِي سُوءًا، أَوْ أَجُرَّهُ إِلَى مُسْلِمٍ"

(ياالله ته يې داناپه پټ او ښكاره باندي "پيداكوونكي داسمانونواوځمكو" پالونكي اوبادشاه دهر شي يي "زه ګواهي وركوم چي نشته هيڅوك لائق دعبادت بغير ستانه" زه پناه غـواړم پـه تاباندي دخپل ځان دشر نه "اودشيطان دشر اوشريك كيدونه" اوددي نه چي زه خپل نفـس ته بد ورسوم او يابل مسلمان ته).

***دادعاسهار اوماښام دري ځلي وييل كيږي:***

"رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلاَمِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ ﷺ نَبِيًّا"

(زه راضي يم په الله باندي چي ځما رب دى "اوپه اسلام باندي چي ځما دين دى" او په محمد ﷺ چي ځما پيغمبر دي).

***دادعاسهار اوماښام دري ځلي وييل كيږي:***

"بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لاَ يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلاَ فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ"



(شروع كوم په نوم دالله "هغه ذات چي دهغه دنوم دياد سره هيڅ شى ضرر نشي رسولي" نه په اسمانونوكي اونه په ځمكوكي اوهغه الله اوريدونكي اونهايت عالم دي)

***دادعاسهاراوماښام او مخكي له خوبه وييل كيږي:***

"اَللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، اَللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ، وَأَهْلِي وَمَالِي، اَللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي، وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اَللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي وَمِنْ فَوْقِي وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِـكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي"

(ياالله زه سوال كوم تانه دبخښي اوصحتمندى په دنيااوآخرت كي"، ياالله زه سوال كوم تانه دبخښي اوصحتمنمدى په دين اودنياكي"، او په بچواومال كي"، ياالله ته ببـرده واچـوى پـه حياګانوځما، او په امن كي ځما ويريګاني، يا الله ماوه ساتي دخپلي مخي نه اوروسته نه اودښي اود چپ طرف نه، اودپاس نه" او پناه غواړم ستا په لويي باندي چي هلاك نشم د لانـدي نه).

***دسهاردوييلو بله دعا:***

"اَللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُورُ"

(ياالله ستا په بركت (أمر) په مونږ سهارشو، اوستا په بركت په مونږ ماښام شو "ستا به حكم ژوندي كيږو او ستا په حكم به مرو" او ځمونږ غونډيدل ستا په لور دي).

***دسهار بله دعا:***

"أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَـهُ، لَـهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَـذَا الْيَـوْمِ